پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۰۸/۰۶

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## پنځه ویشتمه برخه

## د لنډیو بڼ ته د نویو کلماتو راتګ

ما پخوا هم د لنډیو د مقالو په دریمه برخه کې چې د دوه زره څوارلسم کال د فبرورۍ په نهمه نېټه مې خپره کړې وه، ویلي وو چې په لنډیو باندې د پردیو لغاتو ، نومونو، سیاست، مذهب او نورو فرهنګي اغیزو تاثیرات باید محسوس وي، د پردي چاپېرياڵ نوې نوموني، نوې تکنالوژي، نوې ترکیبونه، نوې فکرونه او... ځان په کې ځرګندوي او خامخا به په کې راځي. هغه څه چې ما د لنډیو د مقالو په دریمه برخه کې ویلي دي، یوه برخه یې او څو بیاګي یې دا دي: – وینيي جذبې،روغ توپانونه(دجهادي لنډيوټولګه)،لومړی ټوک،ټولونکی:عوض الدین صدیقي.

دا یوه ټیلیغاتي ټولګه ده چې لنډۍ کې د لاسوهنې په ډول د جهاد برحق توب او د کابل د حکومت او روسانو پر ضد لنډۍ اړول شوي دي. د لنډیو دا ټولګه عوض الدين صدیقي له خوا را ټوله شوې ده، د ۱۳۷۰کال په حمل میاشت کې خپره شوې او اوس یې زه یوه کاپي په اختیار کې لرم. په پیل کې د راټولونکي په قلم یوه سریزه راغلې او بیا لنډۍ د الفبا په ترتیب تقریباً ۹۱۴ لنډۍ په کې را ټولې شوې دي. د لنډیو په دې جونګ کې د لنډیو محتوی ډېره سلنه له مینې نه پل وراندې اینبی دی. په دې لنډیو کې د حماسي مضمون منفي اړخ ته عمداً زور ور کړل شوی او د دښمنیو، غچ اخیستنې، تور لګولو او بد رد ته زور ورکړل شوی دی او دښمنۍ، وینې تویولو، ورانیو او تضادونو ته لمن وهل شوې ده. د دې ټولګې په پای کې یو نومښود هم راوړل شوی دی.

کومې لنډۍ چې افغانان له هیواد نه د باندې تخلیقوي، خامخا به ډیر وطني رنګ و نه لري، رنګ بدلوي او ځانته په مثبت یا منفي لوري تغییر ورکوي. د پردي چاپېرياڵ نوې نوموني، نوې تکنالوژي، نوې ترکیبونه ،نوې فکرونه او... ځان په کې ځرګندوي او خامخا په کې راځي؛ نو په دې اساس ویلای شو: کومې لنډۍ چې له وطني چاپېرياڵ بهر په نورو محیطونو کې تخلیقیږي، لړیا ډیره سلنه د هماغو ځایونو رنګ او اثر به په کې ښکاري. همدا پښتانه چې په هر وطن کې میشت دي، د هماغو ځایونو منفي او مثبت اثرات به د لنډیو د ویونکو د زړه د تناکو یا غوټیو په څیر په لنډیوکې سر اوچتوي او انځوریږي به. یوازې یو مثال:

زما لالی ترکوچوسپین دی
له پیرنګي سره نوکر دی تور به شینه

دا یوه پخوانۍ لنډۍ ده، که د کوم مجبور زوریدلي زړه له نغري نه، په بیلابیلو ځایونو کې یوآه یا غږ را جګ شي او د هماغه وطن او ځای حالت په کې انځور کړای شي، نو داسې به وي:

زما لالی تر کوچو سپین دی
له ډنمارکي سره نوکر دی تور به شینه
له جرمني سره نوکر دی تور به شینه
امریکایي سره نوکر دی تور به شینه
له عربي سره نوکر دی تور به شینه
پاکستاني سره نوکر دی تور به شینه

او...»

دلته به له یادې ټولګې نه (د جهادي لنډیوټولګه، لومړی ټوک) یو څو داسې لنډۍ د نمونې په ډول را واخلم چې په هغو کې نوې داسې کلمات کارول شوي دي چې له یوې خوا په اصل او پخوانیو لنډیو کې نه وو او له بل پلوه د لنډۍ د جوړونکي مقابل لوري ته د منفي نظر په ځرګندولو سره د خپل زړه بړاس ایستلی دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په کمونستو دوکه مه شئ
دوی مزدوران دي، کريملين ته يې ګټينه(۲۵ ام مخ)

د مجاهد له سترګو جار شم
روس يې له لاسه سياسي چيغې وهينه

په کريملين کې شيطان ناست دی
هره لحظه نړی فساد ته لمسوينه(۲۲ ام مخ)

جهاد د خدای له لوري فرض دی
ځوانان د خدای امر منې سر ورکوينه(۳۴ ام مخ)

خالقه کور يې په مرګ وران کړې
چې د هورا نارې وهي لاس پرکوينه(۴۲ ام مخ)

دا بريژنف لکه چې تور شو
چې په کابل هم د پراګ ګومان کوينه(۶۹ ام مخ)

سبا به بيا په سرګ جنګ وي
نن په سرګ غازيانو ايښې دي مينونه (۷۸ ام مخ)

مجاهدين په اتفاق دي
د دين په لار کې شيطانت نه قبلوينه ( ۹۶ ام مخ)

دا پاسنۍ لنډۍ او دې ته ورته نورې لنډۍ چې عمداً نوې تورې په کې ور اچول شوې دي، چې څنګه د خلکو د نقد له ميچنې تيريږي آيا منل کيږي که نه منل کيږي، دا وخت ته اړتيا لري.
استاد حبيب الله رفيع زموږ د هيواد له هغو څيړونکو نه دی چې د لنډيو په برخه کې يې د پام وړ او د قدر وړ کار کړی دی. په لنډيو کې د تورو او لغاتو د بدلون په باب استاد حبيب الله رفيع له هارون حکيمي سره په يوه مرکه کې يو څه رڼا اچولې ده. ده په لنډيو کې د تورو او کلماتو د بدلون په باب داسې ويلي دي:
«... استاد: دا د ژوند د کولو لپاره، هر شی هڅه کوي ژوند وکړي، د هر څه مبارزه روانه ده، لنډۍ شفاهي شی دی، له يوې خولې بلې خولې ته ځي، له يوې سيمې بلې سيمې ته ځي، په دې لړ کې داسې بدلونونه پيدا کوي چې غواړي پکې د خپل پايښت لپاره له هغو څخه کار واخلي لکه دا لنډۍ چې يار مې د کوټې زه د تيرا يم دا لنډۍ که خوست ته ځي، دا لنډۍ که د کوټ او د تيرا وي پنځه ورځې وروسته يادېږي ځکه که له خپلې سيمې سره مينه لري، نو په همدې اساس دا منطقوي نومونه بدليږي، سيمه ييز اتلان پکې بدلېږي، په يوه لنډۍ کې په يو ځای کې يو کس اتل وي خو هغه لنډۍ چې بل ځای ته ځي بل اتل مومي، د هغه ځای مشهور اتل ورسره اچول کېږي چې دا لنډۍ ژوند ورسره وکړي. حتی لنډۍ يو بل کمال هم لري، لغتونه بدلوي، د لغتونو په بدلېدلو سره ژوند کوي اوس دا لنډۍ د زرګونو کلونو لنډۍ ده:

سپوږمۍ سر وهه راخېژه
يار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبينه

دا (جون زانولسونيو) يو پښتو پوه څيړونکی دی هغه وايي چې دا د هغه وخت لنډۍ ده چې آريايان به د شپې لخوا د سوما د بوټي د لو کولو لپاره غره ته تلل او بيا به انتظار وو ترڅو د خوارلسمې سپوږمۍ راوخيژي او دوی د سوما بوټي لو کړي، ځکه که دا په لمر کې لو شوي وای شيره يې خرابېدله، نو دوی به د سپوږمۍ د شپې انتظار ويست او تول به راټول وو بيا به يې د دې بوټي لو کاوه او له هغه به يې شيره ايستله او له هغه به يې مشروب جوړول چې دوی ته ډېر مقدس وو او له هغه به يې استفاده کوله. دا لنډۍ يا له خوارلسم وړاندې ويل شوې، يا په داسې ځای کې ويل شوې چې غرونه لوړ دي او سپوږمۍ ژر نه راخيژي يا هر څه چې دي د مينې لخوا دا لنډۍ ورته ويل شوې ده چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

سپوږمیه سر وهه راخېژه
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه

نو په دې لنډۍ کې چې کوم لغتونه دي دا په ژبه کې عادي دي، فکر کېږي چې دا لغتونه یې هم د وخت په تېرېدو بدل شوي ځکه که هغه زاړه لغتونه وای نو په هغه څوک نه پوهېدل نو هغه یې همداسې پرې اېښې دي. یادا چې:

مازدیګری دی ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رېښتیا به شینه

دا د لمر پالنې د وخت لنډۍ ده، کله به چې لمر لوېده نو په دې وخت کې به لمر پالونکو عبادت کاوه دوی باور درلود چې په دې وخت کې هره دعا قبلېږي، نو په همدې اساس ګوري چې مینه (معشوقه) ښېرې کوي او هلته مازیګر دی نو وایي چې:

مازدیګری دي ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رېښتیا به شینه

دا د هغه وختونو لنډۍ دی خو کلیمې یې نوې دي او ټولې بدلې شوې یوازې فکر یې را لېږدولی دی، ما وویل، چې هغه یو کس جوړوي، لیکن د کس په نامه ځکه نه وي چې هغه ټولنې ته ځي، ټولنه یې لکه شعر هسې نقد کوي، ټولنه پرې نقد کوي، ډېر شیان ترې توږي، او خلک یې ښکلې ښکلې لغتونه اچوي او خراب ترې باسي، نومونه یې بدلېږي، ځایونه یې بدلېږي په ټوله پښتونخوا ګرځي او ژوند کوي او ټول پښتانه ورسره بلدېږي.
حکیمي: تاسې د څو لرغونو لنډیو یادونه وکړه د تاریخ له نظره څېړونکو دا خبره تر کومه ځایه رسولې چې لنډۍ له کوم مهال راهیسې ویل کېږي.
استاد: د لنډیو لرغونتوب د آریایي سندرو له لرغونتوب سره سم دی، علامه کهزاد دې خدای وبښي هغو د افغانستان په تاریخ کې یو عجیب ابتکاري کار کړی هغه وایي چې په نړی کې د هېوادونو ژوند دوه برخې لري، یوه تر تاریخ وړاندې دوره ده او یوه هم تاریخي دوره ده، لیکن د افغانستان ژوند درې دورې لري، یوه تر تاریخ وړاندې دوره ده، یوه د سرودونو او داستانونو دوره ده او یوه هم تاریخي دوره ده، د سرودونو او سندرو دوره داسې مهال ده چې خط لا ندې رامنځته شوی، لېکن د ولس شعورو د شعر په ژبه رامنځته شوې چې هغه لومړی ویدي سندری دي، ویدي ورکې سندرې دي د آریانا ویجه په خاوره کې کابو څلورنیم پنځه زره کاله پخوا ویل شوې دي، بل د ریګوېدا ده چې دا هغه مهال دی، چې کله له بلخ څخه لېږدېدنې پیل شوې او آریایان له هندوکش څخه را واوښتل او پښتانه په موجوده پښتونخوا کې مېشت شول، یوه برخه آریایان پاس ته ولاړل یوه بله برخه هند ته لاړل په دې وخت کې د ریګویدا سرودونه ویل شوي چې پکې د پښتنې سیمو د قبیلو، سیمو، سیندونو او ځایونو نومونه راغلي، په همدې دوره کې د پښتو ژبې کلیمې هم لیدل کېږي او دا هغه وخت دی چې پښتو ژبې هم تشکل کړی، او دغه ادبیات پښتو ژبې ته له آریایي ژبو څخه له ویدا او اوستا څخه رالېږدېدلي دي، په دې اساس د پښتو لومړنی سندرې د ماشومانو او میندو سندرې وربیسې لنډۍ دي، دا له همغو آریایي سندرو څخه دایرکټ یا نېغ په نېغه رالېږدېدلي دي، ځکه موږ د ماشومانو او میندو په سندرو کې داسې مصرې لرو چې هغه سګنالونه دي او معنا نلري، چې دا ترې ښکاري دا د هغه وخت د ژبې لغتونه دي چې مستقیما راغلي او په پښتو کې پاتې دي:
اکو بکو سرسیندکو... هیڅ معنا نلري، یا هم اللؤ لؤ...»

پښتو لنډیو ته د نویو تورو د راتګ په باب ښاغلي انجنیر زهیر شینواري داسې ولیکل:
«زموږ کلاسیک او معاصر ادب !
که کلاسیک ادب مو له بهرنیو کلمو لکه: شکوه، غماز، رقیب، چشمان، ګریبان، زلفان، بیابان، ما ه تا بان، ریګستان، شراب، ساقي، میکده... ډک دی، نو معاصر شعر ته مو بیا د نوي ټکنالوژی د کلمو لکه: سکرین، فیسبوک، ډسکټاپ، ډیلیټ، مسنجر... لوي سیلاب هم راروان دی.»
دغه راز د ښاغلي ډاکتر لطیف یاد په فیسبوک پانه کې د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ په نهمه(۹) نیټه یو شمیر داسې لنډۍ را ښکاره شوې چې په هرې یوې کې یې نوې نومونې، نوي لغات او د نوي ټکنالوژۍ اصطلاحات لیدل کېږي.
ښاغلي انجنیر زهیر او ښاغلي ډاکتر یاد د لنډیو ځینې داسې بیلګې هم وړاندې کړې دي چې د دوی له خوا یاد کلمات په کې کارول شوي دي او زه یې بیلګې دلته ځکه نه را اخلم چې په لنډیو کې د یادو نوو کلماتو له پاره زموږ په خپله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ژبه کې هم له پخوا نه توري او کلمات شته او کله چې په خپله ژبه کې د يو مطلب د ادا کولو له پاره خپله لغوي زيرمه ولرو، نو بيا اړينه نه ده چې د نورو کلمات د دې له پاره را واخستل شي چې داسې وښودل شي چې دا دی موږ په داسې کلماتو هم پوهيږو او نا وړه عواقبو ته يې پام نه وي. مثلا د سِيف کلمه چې موږ په خپله ژبه کې د خوندي کولو منل شوې کلمه لرو او د ډيليټ له پاره د توږلو منل شوې کلمه لرو چې ما د لنډيو د مقالو په درويشتمه برخه کې د استاد معصوم هوتک له قوله بحث ثبت کړی دی:
خو ځينې کلمات چې موږ په خپله ژبه کې معادل نه ور ته لرو کولای شو هغه د ژبنيو قوانينو له مخې را پور کړو.
مثلا: راکټ، امريکا، سکر، سګرت، آنتن، چارج او...
دغه يې د لنډيو بيلګې دي:

کابل يې وران کړ وران يې مه وای
لاس دې يې مات شي چا چې ويشتي راکټونه

جانانه سمه امريکا يې
هم ملامت يې،هم زارئ درته کومه

خاونده بيا د سکر غږ شـــــو
ور سره سم بيا کابــل جان ژړا کــويـــنـــه

سګرټه اوس به دې لمبه کړم
جانان زما دی خولګی تا ته درکوينه

د مداريانو استا کاره
توره مديره کړه خوله دې پيژنمه

د يارمې سيمه غرنی ده
چې موبايل يې اوس آنتن نه ورکوينه

په موبايل کې بې چارج نه وي
اتومات وايي ياردې نه کړي ځوابونه

نوي لغات له نوې تکنالوژۍ او نوي ژوند سره د لنډيو لمن ته راځي، دا چې څه وخت او څنګه به ومنل شي، دا په خلکو او ټولنې پورې اړه لري، چې کوم شی مني او تلپاتې کوي يې او کوم شی غورځوي او هيروي يې.

د پنځه ويشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ